تاند ۲۰/۰۲/۲۰۱۵

ولسمشر غني افغان عالم ډاکتر وردک ته د نړیوالې جایزې د ګټلو په خاطر مبارکي وویله

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني د بریتانیا د جنوبي ویلز پوهنتون استاد ډاکتر علي وردک ته د افغانستان په عدلي او قضایي سیستم کې د کار په خاطر د نړیوالې جایزې پر ګټلو مبارکي وویله.
ډاکتر علي وردک، چې د جنوبي ویلز پوهنتون (University of South Wales) د کریمیناوژۍ یا جرم پېژندنې استاد دی، په خپل اثر کې، چې نړیوال میډال یې ګټلی، د افغانستان په عدلي او قضایي سیستم کې د اصلاحاتو وړاندیزونه کړي دي.
د سږ کال (۲۰۱۵) په لومړیو ورځو کې د بریتانیا د کریمینالوژۍ مجلې (British Journal of Criminology) ډاکتر وردک ته په افغانستان کې د جګړې او جرم په اړه د بې ساري څېړنې په خاطر د (awarded the prestigious Radzinowicz Memorial Prize) معتبره جایزه ورکړه.
د ډاکتر وردک د دې بې ساري تحقیقي کار په اړه په نړیوالو رسنیو کې د راپورونو له خپرېدو وروسته د افغانستان ولسمشر اشرف غني نوموړي ته لیک ولېږه او د ستر کار په خاطر یې مبارکه ورته وویله.

جناب داکتر صاحب علي وردک،

په خورا خوښۍ سره مې د نړیوالو رسنیو له لارې خبر تر لاسه کړ چې تاسو د "British Journal of Criminology" لخوا په افغانستان کې د جرم او جنګ تر نامه لاندې د خپل تحقیقي اثر په خاطر د یادې اداري لخوا په Redzinowics Memoraial Prize تقدیر شوي یاست.

اجازه راکړئ د دې لیک له لارې د خپلې مبارکۍ مراتب او نیکې هیلې تاسو ته وړاندې کړم. په افغانستان کې د شخړو د لاملونو څېړل او موجودو ناخوالو او ستونزو ته د حل لارو موندل، خورا زیاتې څېړنې او زحمت ته اړتیا لري، چې تاسو په ښه توګه دغه لوی کار ترسره کړی دی.

زه په داسې حال کې چې د افغانستان اړوندو ادارو ته د دغه تحقیقي اثر د مطالعې سپارښتنه کوم، تاسو ته په خپلو تحقیقي چارو کې د لا زیاتې بریا او لاسته راوړنو هیله کوم.

محمد اشرف غني
د افغانستان د اسلامي جمهوریت، جمهور رئیس

کابل – افغانستان
۲۰ سلواغه ۱۳۹۳

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ